صدای طالبان

مجله صدای طالبان 09

صدای طالبان
نهم ټوک

جون 2025ء
ذی الحجه 1446هـ ق

د لوی اختر او قربانۍ فضایل او مسائل

د تحریک طالبان پاکستان د رهبري شورا له غړي او د شمالي وزیرستان له نوموتي جهادي شخصیت محترم علي داوړ حفظه اللّٰه سره ځانګړې مرکه!

اسلامي خلافتونه ولې ړنګ شول؟



@umarmedia @umarmedia https://umnews.net

فهرست مضامین

سرمقاله

د سریال یوه بله برخه هم پای ته ورسیده!

په دې وروستیو کې د پاکستان او هندوستان ترمنځ د روانو نمایشي جګړو د سیریال یوه بله برخه هم پای ته ورسېده مګر بیا هم پکې ریښتیني پای ونه موندل شوه. بلکې د معمول په څېر د راتلونکو برخو تمه لا هم پاتې ده!

له نړۍ او په ځانګړي ډول له خپلو ولسونو څخه د جګړې په نوم سیاسي، اقتصادي او عامه ملاتړ ترلاسه کول باید له پاکستاني او هندي دولتونو څخه زده شي!

په یاد ولرئ چې په دې جګړه کې د څو بې وزله معاش لرونکو عسکرو او د عامو ښاریانو په کورونو کې له جنازو چیغو، ژړاوو او فریادونو څخه پرته نور هېڅ هم نه کېږي. څو ورځې ځیني "ناچاره خلک" مړه کېږي او واکمنان بیا د مېز تر شا کښېني او یو بل سره روغه جوړه کوي چې نورې جګړې به سبا ته پرېږدو. که چېرته لږ فکر وشي نو دا څرګندېږي چې نن سبا جګړې مذهبي او یا هم د ځمکې د ملکیت لپاره دي. مګر له ډېر فکر او سوچ څخه وروسته بیا هم دا نه روښانه کېږي چې د پاکستان او هند جګړه د څه لپاره ده؟

نه خو دوی د یو او بل پر خاوره قبضه کوي او نه په ریښتیني ډول مذهبي بڼه لري. ظاهراً خو په ټولنیزو رسنیو کې د پاکستاني پوځ اړوند اکاونټونو څخه آیتونه او احادیث خپرېږي مګر داسې کوم باقاعده بیان هم مختته نه راځي چې له هغه څخه دا رامعلومه شي چې دغه جنګ دي د دین په خاطر یعني جهاد وي. بلکې ټول شواهد دا ښيي چې که دوی کومه سیمه ونیسي بیا به هم هلته د دین حاکمیت نه وي.

په دې حالاتو کې یو طرف ته د مولوي مسعود اظهر صیب د خپلوانو شهادت او د جوماتونو تر هدف لاندې راتلو غم او بل طرف ته حیرانوونکې داده چې د دواړو هیوادونو سترو او جیدو علماء کرامو دغه وطن پرسته او ډرامه یي جګړه جهاد وبلله او د خپل وطن د پوځونو ملاتړ یې وکړ حال دا چې دا پوځونه د بې دینی، جمهوریت پیروان دي او د شریعت له نظره په بې مفهومه او بې معنا جګړه کې ښکیل شوي دي.

اوس د اسلام له مخې څنګه کولی شو چې یو هندو چې د هند لخوا جګړه کوي او یو مسیحي پیلوټ یا عسکر چې د پاکستان لخوا جګړه کوي په حقه وبولو؟ او که ووژل شي څنګه یې شهید وبولو؟ او څنګه دا جګړه جهاد بللی شو؟ حال دا چې له دواړو خواوو څخه د اسلام د لوړوالي لپاره نه بیان ورکړل شوی او نه دا عقیده لري.

نو د دې وطن مسلمانانو ته پکار ده چې دا وپېژني چې جهاد څه شی دی او د سیاسي ګټو او مفاداتو لپاره جګړه څه ته وایي؟ د جهاد لپاره د اسلام شرط کېژدل څه ارزښت لري او هدف یې څه دی؟

نو په داسې بې مفهومه او بې معنا جګړو کې د زنده باد او مردباد له چیغې وهلو څخه غوره داده چې په هیواد کې په موجوده جهادي فعالیتونو کې برخه واخیستل شي چې هدف یې لا اله الا اللّه دی ترڅو زموږ ژوند او مرګ دواړه له هدف او مراد څخه ډک شي او د قیامت په ورځ د اللّه جل جلاله په حضور کې سرلوړي شو ان شاءاللّه العزیز.

اسلامي خلافتونه ولې ړنګ شول؟

ليکوال: اديب حمزه

که موږ خپل تاريخ په دقت سره ولولو، نو دا به څرګنده شي چې د اسلامي خلافتونو بنسټونه د زحمت، قربانۍ، او ستريا په بنياد ايښودل شوي دي. زموږ اسلافو د دې امت د عزت، سرلوړۍ او بريا لپاره نه سترې کېدونکې هڅې کړي دي. اسلام او مسلمانانو تل صليبي نړۍ او خپلو ازلي دښمنانو ته د توري، قربانۍ او شهامت له لارې ماتې ورکړې، او د همدې مبارزو په نتيجه کې ستر اسلامي خلافتونه راڅرګند شول.

د حضرت محمد صلی اللّه عليه وسلم له مبارک دور څخه نيولې، تر ننه پورې موږ د ګڼو اسلامي خلافتونو او سلطنتونو شاهدان پاتې شوي يو. يو خلافت جوړ شو، بل ړنګ شو؛ بل جوړ شو، بل له منځه لاړ. خو تل دا پوښتنه زموږ ذهنونو ته راځي چې: ولې اسلامي خلافتونه ړنګ شول؟

دا لاندې مهم لاملونه دي چې د اسلامي خلافتونو د زوال اصلي اسباب بلل کېږي:

۱ــ خپل هدف هېرول:

کله چې د اسلامي خلافت مشران له خپل ستر او مبارک هدف څخه غافله شول او د عبثو چارو ښکار شول، نو دښمنانو ته اسانه فرصت په لاس ورغی، او خلافتونه يې کمزوري کړل.

۲ــ له تاريخ نه ناآګاهي:

له تېر تاريخ څخه زده کړه د پرمختګ مهمه کلی ده، خو زموږ مشرانو تل د تېر تاريخ له تجربو سترګې پټې کړي او تېرې تېروتنې يې بيا بيا تکرار کړې.

۳ــ خپل منځي اختلافات:

اختلافات د امت لپاره زهر دي. همدا هغه فتنه ده چې د صليبيانو لپاره تر ټولو قوي وسله ثابته شوه، دوی د مسلمانانو ترمنځ تفرقه واچوله، او د يووالي قوت يې کم، بلکې له منځه يووړ.

۴ــ خواهشاتو ته غاړه ايښودل:

نفساني غوښتنو او شهواني رغبتونو د خلافت اميران د عيسويانو د دسيسو ښکار کړل. هغوی د بې حيايۍ، عريانيت او فحاشۍ له لارې د امراوو ارادې کمزورې کړې، او په خپل دام کې يې راګير کړل.

۵ــ د ځوان نسل روزنه له پامه غورځول:

صليبي نړۍ تل د اسلامي امت د ځوان نسل په فکر کې ده، چې هغوی بې لارې کړي، بې حيا يې کړي، او له دين څخه يې بېزاره کړي. د خلافتونو له ړنګېدو وروسته دوی د ځوانانو ذهنونه اشغالول، تر څو يې د اسلامي نظام پر ضد وکاروي. نو زموږ دنده ده چې د ځوان نسل سالمه فکري او عقيدوي روزنه وکړو، ځکه د نن ځوان د سبا مشرتابه دی.

۶ــ له کفارو سره نېږدې اړيکې:

د کفري قوتونو سره شخصي، تجارتي او سياسي اړيکې جوړول، يوه بله لويه تېروتنه وه. همدغه اړيکې د استخباراتي نفوذ دروازې وې، چې د خلافتونو د سقوط لامل وګرځېدې.

۷ــ د امراوو بې پرواهي او د رعيت بې اطاعتي:

کله چې مشران له خپل مسؤليت نه غافل شول، په عيش او عشرت کې ډوب شول، او رعيت يې بې اطاعته شو، نو د خلافتونو نظام متزلزل شو، او د زوال پر لور روان شو.

۸ــ د بيت المال خيانت:

د مسلمانانو له شتمنۍ سره خيانت، د خلافتونو د سقوط وروستۍ ضربه وه. کله چې امانت نه وساتل شو، خلافت هم پاتې نه شو.

نن ورځ، زموږ د امت تر ټولو مهم ضرورت دا دی چې خپل تاريخ ته ژوره کتنه وکړو، تر څو له تېرو تېروتنو سبق واخلو، او د راتلونکي لپاره سم لوری وټاکو. اسلامي خلافت يوازې د تورو په زور نه، بلکې د فکري، اخلاقي، او وحدتي قوتونو په بنسټ جوړېږي.

راځئ! چې خپل زړونه، فکرونه او صفونه يو کړو، تر څو يو ځل بيا د اسلام بيرغ د نړۍ پر سر ورپوو.

د تحریک طالبان پاکستان د رهبري شورا له غړي او د شمالي وزیرستان له نوموتي جهادي شخصیت محترم علي داوړ حفظه الله سره ځانګړې مرکه!



د صدای طالبان مجله: محترم علي داوړ صاحب!
موږ له تاسو څخه نړۍ مننه کوو چې موږ ته مو وخت راکړ او زموږ لوستونکو ته مخاطب شوئ!

علي داوړ: الحمدللّه والصلاة والسلام علی رسول اللّه امابعد:
دا به یقیناً زما لپاره یو نعمت وي، بلکې زه باید له تاسو څخه مننه وکړم چې ما ته مو له دې لارې مجاهدینو او د پاکستان خلکو ته د وینا کولو فرصت راکړ، جزاکم اللّه خیرا.

د صدای طالبان مجله: محترم علي داوړ صاحب!
مهرباني وکړئ که چېرته لومړی په لنډ ډول خپل ځان لوستونکو ته ور معرفي کړئ؟

علي داوړ: مننه، زه په شمالي وزیرستان کې د داوړ قوم د «تپي» له فرعي شاخ سره تړاؤ لرم. زه یو ادنی او کشر مجاهد یم او د خپلې ورتیا مطابق د شریعت د نفاذ په جهادي فریضه کې شریک او د تحریک طالبان پاکستان برخوال یم.

د صدای طالبان مجله: تاسو لا پخوا د جهادي فعالیتونو برخه وئ، مګر د تحریک طالبان پاکستان سره مو کوم تړاؤ نه درلود، خو اوس یاست! آیا تاسو په دې بدلون کې کوم توپیر وینئ؟

علي داوړ: د ټولو جهادي تنظیمونو هدف یو شان دی چې هغه د شریعت محمدي (صلی اللّه علیه وسلم) پلي کول دي. د دوی ترمنځ یوازینی توپیر د کار کولو په طریقه کې دی. هر تنظیم خپل انداز او خپل فکر لري او د دوی فکر په هیچا نشي تحمیل کېدای.
مګر ما تل دا درېځ ساتلی دی چې که منزل یو وي، نو هڅې او کوښښونه هم باید له یو مقام، یوې منبع او یوځای څخه وي.
له بده مرغه ما د دې پوښتنې لپاره قناعت بخښونکی ځواب ترلاسه نه کړ، نو له دې وروسته ما او زما ملګرو د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) پراخ غړیتوب ترلاسه کړ او موږ د اجتماعي ګټو او هدف لپاره خپلې انفرادي ګټې قربان کړې.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: آیـا تاسـو فکـر کـوئ چـې نـــور ټـــول پاکســـتاني مجاهدیـــن بایـــد د تحریـــک طالبـــان پاکســـتان برخـــه شـــي؟
که ځواب مو (هو) وي، نو ولې؟

علـــي داوړ: هـو بلـکل، کلـه چـې هـدف یـو ویـږ نـو وېـش بـې معنـا کیـږي.
تحریـــک طالبـــان پاکســـتان دا مهـــال پـــه جنوبـــي آســـیا کـــې تـــر ټولـــو لـــوی، منظـــم تنظیـــم او جهـــادي جماعـــت او نظریـــه ده.
لـــه همـــدې املـــه، د ټوټـــه کېـــدو پرځـــای یوځـــای کیـدل او اتفـاق کـول لـه عقلـي او شـرعي پلـوه یـوه سـمه او درسـته لاره ده.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: څرنګـــه چـــې تاســـو د شـــمالي وزیرســـتان څخـــه یاســـت، نـــو هلتـــه د مجاهدینـــو د وروســـتي شـــتون او فعالیتونـــو پـــه اړه څـــه نظـــر لـــرئ؟

علـــي داوړ: زمونـــږ نظریـــه د طـــارق ابـــن زیـــاد (رحمـــه اللّه) نظریـــه ده:
«*مـوږ چـې هرچیـرې یـو، هماغـه زمـوږ د عمل ډګر دی!»*
پـــه وزیرســـتان کـــې د مجاهدینـــو شـــتون ځکـــه اړیـــن دی چـــې هلتـــه د اللّه (جـــل جلالـــه) د کلام لوړوالـــی یعنـــې اعـــلاء کلمـــة اللّه ممکـــن دی.
همدارنګـــه مـــوږ د ســـیمه ییـــزو خلکـــو د ژونـــد ملکیـــت او عـــزت ســـاتنې څخـــه پـــه پـــوره ډول خبـر یـو، ځکـه چـې پـه دې سـیمه کـې وړانـدې هـــم جنګـــي ویجـــاړۍ تېـــرې شـــوې دي.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: د رهبـــرې شـــورا د غـــړي پـــه توګـــه تاســـو بـــه د امیـــر د اطاعـــت او مقرراتو د اطاعـــت پـــه اړه څه وواياســـت؟

علـــي داوړ: کلـــه چـــې مـــا د خپـــل ډېـــر منظـــم ځـــواک مشـــري د یـــو لـــوی هـــدف او موخـــې لپـــاره قربانـــي کـــړه، نـــو لـــه دې څخـــه دا معلومېـــږي چـــې د امیـــر لـــه اطاعـــت څخـــه د مـــخ اړولـــو لپاره هیـــڅ توجیـــه نشـــته.
مـــوږ دا خپـــل دینـــي مســـؤلیت ګڼـــو چـــې د امیـــر اطاعـــت پـــه بشـــپړ ډول او پـــه پـــراخ زړه او کاملـــې پاســـدارۍ ســـره وکـــړو.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: تاســـو هـــم داوړ یاســـت او یـــو بـــل شـــخصیت محســـن داوړ هـــم پـــه همـــدې قـــوم پـــورې تـــړاؤ لـــري او پـــه تحریـــک بانـــدې نیوکـــې کـــوي، تاســـو د هغـــوی پـــه اړه څـــه واياســـت؟

علـــي داوړ: د محســـن داوړ پـــه څېـــر خلـــک هغـــه څېـــرې دي چـــې سیاســـت د شـــخصي ګټـــو لپـــاره کاروي، هغـــه پـــه خپلـــه د نړیوالـــې اســـتخباراتي اداری یـــوه آلـــه ده او د پښـــتنو لـــه مظلومیـــت څخـــه پـــه ګټـــې اخیســـتنې ســـره مالـــي ګټـــې او مفـــادات ترلاســـه کـــوي.
هغـــه څـــه چـــې اوس ورتـــه اړتیـــا ده، هغـــه دا ده چـــې لـــه داســـې خلکـــو ســـره د خبـــرو اتـــرو ضـــرورت نشـــته، بلکـــې لـــه داســـې خلکـــو څخـــه د محتـــاط واتـــن ضـــرورت دی، مـــوږ هېڅکلـــه پـــر هغـــه بـــاور نشـــو کـــولای.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: پـــه شـــمالي وزیرســـتان او نـــورو ســـیمو کـــې د امـــن کمیټـــو د شـــتون پـــه

اوه د تحریک طالبان پاکستان پیغام څه دی؟

علـــي داوړ: مـــوږ لـــه داســـې ډلـــو ســـره هېـــڅ کومـــه جګـــړه نـــه غـــواړو څکـــه چـــې دوی هـــم زمـــوږ د ســـیمو اوســـیدونکي دي او ډېـــری یـــې لـــه غریبـــو کورنیو ســـره تـــړاو لـــري، مګـــر لـــه دوی څخـــه مـــو یوازینـــی هیلـــه او امیـــد دا دی چـــې دوی د اجیـــرو پاکســـتاني امنیتـــي ادارو د لاس آلـــې او لاســـپوڅي ونـــه ګرځـــي او د مجاهدینـــو پـــه لاره کـــې خنډونـــه جـــوړ نـــه کـــړي.

د صـــدای طالبـــان مجلـــه: پـــه پـــای کـــې تاســـو د تحریـــک طالبـــان پاکســـتان عامـــو مجاهدینـــو تـــه څـــه پیغـــام لـــرئ؟

علـــي داوړ: هـــر مجاهـــد چـــې پـــه ورســـپارل شـــوې دنـــده بوخـــت وي، بایـــد خپـــل کـــردار او عمـــل د الهـــي احکامـــو تابـــع وګرځـــوي.
منافقـــت، ریـــاکاري، ظلـــم، بـــې ادبـــی او د خیانـــت پـــه څېـــر چلندونـــه بایـــد د جهـــاد تصـــور داغـــداره نـــه کـــړي.
مـــوږ بایـــد وخـــت پـــه وخـــت لـــه خپـــل ځـــان ســـره محاســـبه وکـــړو ترڅـــو د مجاهـــد او مـــلا د آذان ترمنـــځ توپیـــر روښـــانه شـــي او مـــوږ پـــه دې نـــړۍ او آخـــرت دواړو کـــې کامیابـــه شـــو، ان شـــاءاللّه.
وعلیکم السلام ورحمة اللّه وبرکاته!

ولې په پاکستان کې باید یوائې د تحریک طالبان پاکستان تر چتر او قیادت لاندې جهاد وشي؟

(دویمه برخه)



مولانا خالد قریشي

د تېرې برخې پر دوام....

موږ په دې موضوع باندې په خپلې لومړۍ لیکنه کې دا ویلي و چې، اوس مجاهدین اړ دي چې د خپلو هېوادونو په دننه کې جهاد ته دوام ورکړي؛ نو که چېرته په یو هېواد کې دننه د یو بیرغ لاندې جهاد ته دوام ورکړل شي، نو له همدې لارې به د یووالي او اتفاق روایات عملي بڼه ومومي. همداراز مو دا هم ویلي و چې تحریک طالبان پاکستان، د پاکستان ترټولو لوی او تقریباً تر ډېره، د ټولو له خوا منل شوی جهادي جماعت دی، نو پر همدې اساس پرې د سواد اعظم اطلاق هم کېدای شي، نو د دې مسئلې په پام کې نیولو سره هم باید جهادي قافله او خوځښت د همدغه جماعت تر قیادت لاندې پرمخ یوړل شي.

په دې برخه کې موږ کوښښ کوو څو داسې بېلگې وړاندې کړو، تر څو ثابته کړو چې، په یوه هېواد کې یوازې یو جهادي جماعت بریالی کېدای شي.

یوه ښکاره او له لمر څخه روښانه بېلگه د افغانستان اسلامي امارت ده، چې د ډېرو کمو امکاناتو او لږ شمېر مجاهدینو په وسیله یې لوی لوی فرعونان او مستکبرین له افغانستانه وتلو ته اړ او وشړل. که ووایو چې د اسلامي امارت دویم نوم وحدت دی، نو دا به هېڅ مبالغه نه وي.

دا داسې نه ده چې ګواکې د افغانستان اسلامي امارت له دې اړخه له ننګونو سره نه ده مخ شوی، بلکې د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّه تر وفات وروسته هلته ځینو ډلو د سر را اوچتولو هڅې وکړې، خو د اسلامي امارت سیاسي حکمت او هڅو پرې برلاسي وموندله او د صف ماتېدو مخه ونیول شوه. همداراز د اسلام دښمنانو هم د «حقاني شبکې»، «قندهار – خوست» او نورو نومونو په کارولو سره د دې مبارک جهادي صف په منځ کې د درز اچولو شیطاني هڅې وکړې، خو دا ټولې شومې هڅې یې ناکامې او بې فایدې ثابتې شوې. او وروسته ټولو ولیدل چې یو خوا عظیمه فتحه ترلاسه شوه، او بل خوا د کندهار ستر جهادي شخصیت، د بلخ والي حاجي محمد یوسف وفا او د هلمند والي مولوي طالب د محترم الحاج خلیفه سراج الدین حقاني حفظه اللّه لاس او تندی ښکل کړ. همدا راز د حقاني شبکې په نوم مشهورې ډلې هم د اطاعت او فرمانبرداری یوه ښکلې او زړه راښکونکی انځور وړاندې کړ، او بیا انس حقاني د دې وینا په

کولو سره چې «زه د حقاني شبکې په نوم څه نه پېژنم» دښمن لا سپک او رسوا کړ.

همدارازد شام فتحه هم زموږ لپاره یوه ژوره او له درسه ډکه تجربه ده، هلته د څو هېوادونو انصار او مهاجر مجاهدین د یو صف په توګه یو موټی شول او د پنځوس کلن ظالم او وحشي تاریخ پاڼه یې وتړله او ظالم نظام یې له منځه یووړ.

په همدې ډول، د سومالیا مجاهدین هم زموږ پر وړاندې ژوندي مثالونه دي، چې د هېواد په کچه یې د بنیان مرصوص په څېر دښمن ځپلی، او ورځ تر بلې د فتحې پر لور روان دي.

ځکه دا ټولو ته معلومه ده چې:

«که یو شي، نو د رڼا لمر شي
کنه، دا خپاره واره ستوري خو څه نه شي»

په قرآن کریم کې بیا بیا د بېلابېلو پېښو یادونه شوې ده، او له هغوی نه د عبرت او درس اخیستو حکم ورکړل شوی. د روایتونو له مخې دا څرګندېږي چې له پېښو نه عبرت نه اخیستل د کفارو ناوړه خوی دی، او له همدې له امله یې غندنه هم شوې. نو بیا
ولې موږ له دغو ژوندي مثالونو څخه عبرت وانخلو؟
ولې موږ د کتاب الله او سنتو له مخې د غندنې وړ وګرځو؟
ولې موږ ځانونه د اولوالالباب او اولوالابصار په توګه ثابت نه کړو؟
ولې له دومره آیتونو، حدیثونو، څرګندونو او پېښو نه مخ واړوو؟

نو د پاکستان ټول مجاهدین باید پر دې موضوع ژور فکر وکړي او د یو صف، یو امیر، یو بیرغ او یو قیادت تر چتر لاندې جهاد ته دوام ورکړي، څو دا جهاد یوه نتیجه ورکړي، ګټور تمام شي، نه دا چې یوازې د شهادتونو، بند و زندان، او کړاوونو کیسې پاتې شي.

د پاکستان د مبارک او سپېڅلي جهاد، او همداراز د تحریک طالبان پاکستان د بېلابېلو اړخونو او اړونده مختلفو سیاسي او دیني موضوعاتو په اړه د تحریک طالبان پاکستان له محترم امیر، شیخ ابو منصور عاصم مفتي نورولي محسود حفظه الله سره ځانګړې او تفصیلي ناسته

(لومړۍ برخه)



یادونــه: دغــه مهمــه او تفصیلـي مرکــه چــې لــه دې وړانــدې د عمــر میډیــا لخــوا پــه اردو ژبــه پــه ویډیویــي بڼــه خپــره شــوې، اوس د عمر میډیــا اداري اړونــد د صــدای طالبــان مجلــې مدیریــت دغــه مرکــه پرتــه لــه هــر ډول بدلــون، پــه پــوره امانتــدارۍ ســر معیــاري او ټکــي پــه ټکــي پښــتو ژبــې تــه ژباړلــې او خپلــو قدرمنــو لوســتونکو او کتونکــو تــه یــې وړانــدې کــوي.

کوربــه: محتــرم مولانــا قــاري محمــد شــعیب صاحب حفظه اللّٰه

(د تحریــک طالبــان پاکســتان د رهبــري شــورا او اعلامــي کېمســیون غــړی)

مولانا قاري شعیب صاحب:

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

لــه هغــه وختــه چــې پــه افغانســتان کــې د اســلامي امــارت مجاهدیــن بریــا تــه ورســېدل او عظیمــه فتحــه یــې ترلاســه کــړه، امریــکا او صلیبــي متحدیــن یــې لــه تاریخــي او شــرمناکې ماتــې ســره مــخ شــول، نــو د پاکســتان پــه جهــادي محــاذ کــې هــم د تحریــک طالبــان پاکســتان د مجاهدینــو پــه عملیاتــو او بریدونــو کــې د پــام وړ تندریــز پرمختــګ او زیاتوالــی لیــدل کېــږي. د دې بنیــادي او اساســي ســبب دا دی چــې د افغانســتان لــه فتحــې څخــه مخکــې مجاهدیــن هممهالــه پــه دوه محاذونــو کــې بوخــت وو، مګــر د اســلامي امــارت تــر بریــا وروســته، د تحریــک طالبــان پاکســتان مجاهدینــو خپــل ټــول تمرکــز او توجــه د پاکســتان محــاذ تــه واړولــه. د عملیاتــو د زیاتوالــي ســره ســم د دښــمن پــه تبلیغاتــي کمپایــن او پروپاګنــډ کــې هــم د پــام وړ زیاتوالــی راغــی. یــو طــرف تــه د اســلامي امــارت (اعزهــا اللّٰه) پــر خــلاف تبلیغــات روان دي، او بــل طــرف تــه د تحریــک طالبــان پاکســتان پــر ضــد پروپاګنــډ زیــات شــوی دی. لــه همــدې املــه عمــر میډیــا مناســبه وګڼلــه چــې د دغــو پروپاګنډونــو په اړه د تحریــک طالبــان پاکســتان لــه محتــرم امیر ســره ځانګــړې مرکــه وکــړي. مــوږ لــه محتــرم امیــر صاحب څخــه مننــه کــوو چــې د خپلــو ګڼــو بوختیــاوو او مصروفیتونــو ســره ســره یــې د مرکــې لپــاره وخــت وویســت. جــزاه اللّٰه احســن الجــزاء.

تــر ټولــو لومــړی مــوږ محتــرم امیــر صاحــب تــه ښــه راغلاســت وایــو. امیــر صاحــب محترم! السلام علیکــم ورحمــة اللّٰه وبرکاتــه.

محتــرم مفتــي ابــو منصــور عاصــم صاحــب:

وعلیکــم الســلام ورحمــة اللّٰه وبرکاتــه.

مولانــا قــاري شــعیب صاحــب: محتــرم امیــر صاحــب! لکــه څنګــه چــې ټولــو تــه څرګنــده ده، چــې امریــکا او صلیبــي متحدینــو یــې د «ترهګــرۍ» تــر عنــوان لانــدې پــر مظلومــو مســلمانانو او د افغانســتان پــر مجاهدینــو یرغــل وکــړ، او پاکســتان د دغــې جګــړې د صــفِ اول (لومــړۍ کرښــې) متحــد او ملګــری جــوړ شــو او لــه غاصبــو اشــغالګرو ســره یــې هــرډول مرســته او تعــاون وکــړ چــې لا هــم دوام

لري. د افغانستان پر خاوره باندې د امريکا او ناټو له يرغل وروسته کڼ شمېر عرب او عجم مجاهدين قبايلي سيمو ته کډه او مهاجر شول، پاکستاني طالبانو د جيدو علماوو د اجماعي فتوا پر اساس د اسلامي امارت د دفاع په پار په افغانستان کې د دفاعي جهاد پيل وکړ. اجير پاکستاني پوځ او حکومت بيا د امريکا په لارښوونه او په بشپړ مالي او نظامي ملاتړ د پاکستان په قبايلي سيمو او نورو ښاري او اطرافي علاقو کې د پاکستاني طالبانو او له هغوی سره د پناه اخيستونکو افغاني او نورو غير ملکي عربو او عجمو مهاجرينو او مجاهدينو پر ضد عمليات پيل کړل، چې لا تراوسه هم دوام لري. اوس پوښتنه دا ده چې له شرعي لحاظه هغه مسلمان چې د کفارو سره د مسلمانانو پر ضد مرسته کوي، د هغه حکم څه دی؟

محترم مفتي ابو منصور عاصم صاحب: بسم اللّٰه الرحمن الرحيم، والصلاة والسلام على رسول اللّٰه، وعلى آله وصحبه ومن والاه، اما بعد:

له جنګي اړخه د دې مسئلې په اړه د څلورو مذاهبو (حنفي، شافعي، مالکي، حنبلي) ترمنځ قوي اجماع ده، چې کافر او د هغه مرستهکوونکی يو حکم لري. لکه څرنګه چې د افغانستان د اسلامي امارت پخواني مفتي اعظم، مولانا عبدالعلي ديوبندي رحمه اللّٰه د خپل کتاب »مختصر احکام القتال» په (ص:۱۰) کې د حنفي فقهې د معتبرو کتابونو په حوالو سره ليکلي:

«فإن كان المسلم واقفاً في صف المشركين عن طوع بلا إكراه، فلا شك في جواز قتله عند المذاهب الأربعة، بل يجوز قتله باتفاق الفقهاء»

ژباړه: که يو مسلمان د خپلې خوښې له مخې، بې له کوم جبره، د کفارو يا مشرکينو په صف کې ودرېږي، نو د هغه وژل د څلورو مذاهبو په اتفاق جايز دي. يعنې د هغه په وژلو کې د فقهاوو ترمنځ هيڅ اختلاف نشته دی.

همدرانګه، علامه طرابلسي حنفي رحمه اللّٰه په «الفتاوى الكامليه» کې د داسې خلکو په اړه فرمايي: «وحكم أولئك حكم الزنادقة، إن اطّلع عليهم قتلوا، وإلا فأمرهم إلى اللّٰه.» الفتاوى الكامليه» (ص: ۲۵۱، د کتاب الجنايات)

ژباړه: د دغو کسانو حکم د زنديقانو حکم دی، که پرې خبر شئ، نو وې وژنئ، او که نه، نو حکم يې اللّٰه ته سپارل شوی.

همداراز، شيخ الاسلام علامه حافظ ابن تيمييه رحمه اللّٰه هم په جامع الفتاوى (جلد: ۸، صفحه: ۳۵۳) کې هم دا موضوع ذکر کړې ده.

او همدا راز د وخت ستر فقيه، مولانا مفتي محمد فريد صاحب رحمه اللّٰه د کفارو د مرستندويانو (معاونينو) په اړه، چې له ده څخه پوښتنه شوې ده، په فتاوى فريديه کې داسې فرمايي:

سوال: د دين عالمان د دې مسئلې په اړه څه فرمايي، چې هغه کسان چې له بېدينه (دهري) حکومت څخه وسله اخلي او د مجاهدينو پر وړاندې جنګېږي، نو د دغو خلکو وژنه او له هغوی سره د جهاد کولو حکم څه دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: مولوي کمال محمد، کرم ايجنسي، صد.

الجواب: د بېدينو (دهريانو) پر ضد د هغوی د کفر له امله جګړه مشروع ده، او همدارنګه د هغوی پر مرستندويانو او مدافعينو (ساتونکو)

باندې هم جګړه روا ده.

اللّٰه تعالی فرمايي: «وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ».

ژباړه: څوک چې له تاسو نه له هغوی سره دوستي ونيسي، نو هغه له هغوی نه دی.
(فتاوی فريديه، ج: ۶، ص: ۴۳۰، کتاب الجهاد، باب شرايط الجهاد)

او فقيه العصر مولانا مفتي محمد فريد رحمه اللّٰه په همدغه فتاوی فريديه (ج: ۶، ص: ۴۴۵) کې د کفارو د مرستندويانو په اړه په ځای کې داسې فتوا ورکړې ده:

په افغان جهاد کې د ولسي کډون او د کفارو د مرستندويانو حکم

سوال: ديني عالمان د افغانستان د انقلاب په اړه څه وايي؟ هلته اوس کمونيستي افکارو لرونکي خلک واکمن دي، د روسي نظرياتو او بې ديني (دهريت) تبليغ کوي، ډېر زيات علماء يا وژني يا يې بنديانوي، چې له امله يې دين پاله خلک او اهل علم هجرت ته اړ ايستل شوي. نو پوښتنه دا ده چې، آيا د دغه بې دينه حکومت پر ضد جهاد د شريعت له نظره روا دی او که نه؟ او هغه کسان چې د دغه حکومت ملاتړ کوي يا مرسته ورسره کوي، د هغوی حکم څه دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: شيخ القرآن مولانا حمداللّٰه جان ډاګوي المظاهري ۲۲-۱۱-۱۹۷۰م.

الجواب: له شواهدو داسې ښکاري چې د افغانستان د نوي حکومت د واک خاوندان کمونيست او بې دينه خلک دي، دا خلک د هر دين، او په ځانګړې ډول د اسلام، سرسخت دښمنان دي. که څه هم دا خلک په ښکاره د اسلام نعرې وهي، خو چې کله ځواکمن شي، نو د اسلام شعائر (نښانې او مناسک) بندوي. د بُخارا حکومت يې ښه مثال دی. بناءً د دې حقايقو پر بنسټ، پر ټولو اسلامي هېوادونو فرض ده چې له دغه نوي حکومت سره مقابله او جهاد وکړي. همدارازپر ولس هم بقدرِ وس جهاد فرض دی. او هغه کسان چې د دغه شريعت دښمنه حکومت ملاتړي دي يا مرسته ورسره کوي، د هغوی حکم هم همدا ډول دی. وهو الموفق.

(فتاوی فريديه، ج: ۶، ص: ۴۴۵)

مولانا قاري شعيب صاحب: محترم امير صاحب! د پاکستان د جهاد پر ضد دا تبليغ او پروپاګند کېږي چې ګواکې د رياست پر ضد وسله پورته کول «خارجيت» او بغاوت دی، او بله خبره دا کېږي چې د رياست په موجوديت کې جهاد ته شرعي توجيه نه شته، ځکه جهاد خو د دولت (حکومت) مسؤليت دی. نو د شريعت له نظره د دې مسئلې وضاحت وکړئ.

محترم مفتي ابو منصور عاصم صاحب: په دې اړه بايد ووايم چې د روانې جګړې پيل موږ نه دی کړی، بلکې موږ خو خپل مقدس جهاد د افغانستان د اسلامي امارت (أعزها اللّٰه) په سيپېځلي نظام باندې د حمله کونکې او اشغالګرې امريکا او د هغوی د ائتلافي ځواکونو او متحدينو پر ضد پيل کړی و، خو د پاکستان حکومت او پوځ د خپلو لوېديځو او غربي بادارانو د رضايت لپاره او د څو ډالرو د ترلاسه کولو په خاطر زموږ د آزادۍ خاورې دننه زموږ د مهاجرينو ميلمنو پرخلاف عمليات پيل کړل. چې په غبرګون کې يې زموږ د غوښتنې او استفتاء څخه پرته، د پاکستان له معتبرو ديني مدرسو او مراجعو سره تړاؤ لرونکو ۵۰۰ نه زياتو جيدو

او ممتازو علماء کرامو د پاکستاني پوځ پر ضد د جهاد فتوا ورکړه، کومه چې وروسته بیا د «وانا آپریشن س متعلق علماء کا متفق فتوی» په نوم بیا بیا خپره او نشر شوه. نو موږ هم د همدې فتوا او د ورته نورو اکابرو د فتاوو، اقوالو او لاربښوونو په رڼا کې د خپل جهاد لوری د پاکستان خوا ته هم واړاوه. نو کله چې د جګړې پیل زموږ له طرفه نه و، نو بیا ولې موږ ته د ملتیا کوته نیول کېږي؟!

او که د «بغاوت» خبره وي، نو باید پدې پوه شو چې مسلح قیام هغه وخت بغاوت بلل کېږي چې څوک د «برحق امام» یا «عادل مشر» پر ضد بې دلیله قیام وکړي. لکه څنګه چې په «البنایة شرح الهدایة» کې د «باب البغاة» تر عنوان لاندې راغلي: «فَالْبَغْي هُمُ الْخَارِجُوْنَ عَلَى اِمَامِ الْحَقِّ بِغَيْرِ حَقٍّ»

یعنې: اهل بغات هغه خلک دي چې بې له وجې د برحق امام پر ضد خروج وکړي.

په داسې حال کې چې زموږ له نظره د پاکستان موجوده حکمرانانو ته د امام عادل حیثیت ورکول هېڅکله هم سم نه دي، که څه هم د رواني جګړې پیل موږ نه دی کړی، خو د امام عادل لقب ورکول ځکه سم نه دي چې پاکستاني پوځ د اسلام او کفر ترمنځ په روانه جګړه کې د «ترهګرۍ پر ضد» تر شعار لاندې، د نړیوالو ترهګرو لکه امریکا او ناټو مرسته وکړه، د افغان ملت او عراقي مسلمانانو پر ضد یې د امریکا ملاتړ وکړ او ښکاره همکاري یې ورسره وکړه.

امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله یې د امریکایي کټو لپاره شهید کړ. د اسلامي او سفارتي اصولو خلاف یې د طالبانو پخواني سفیر ملا عبد السلام ضعیف صاحب له ډېرې بې عزتۍ سره امریکایانو ته وسپاره.

د امریکا د رضایت لپاره یې د طالبانو پخواني دفاع وزیر او مرستیال ملا عبیدالله اخند صاحب ونیو او شهید یې کړ. د افغان جهاد محبوب، مظلوم او جرار شخصیت، استاد یاسر صاحب یې ونیوه او بې درکه یې کړ، چې تراوسه ورک دی. د افغان طالبانو پر ضد یې امریکا ته هوایي، ځمکنۍ، او بحري لارې او اډې ورکړې، هغوی ته یې لوجستیکي مرسته ورکړه.

د پاکستان خاوره یې د امریکا په واک ورکړه چې د همدغې خاورې له لارې د افغانستان په مظلومو مسلمانانو باندې شاوخوا ۵۷ زره حملې وشوې، چې په نتیجه کې یې د هغه وخت یوازینۍ اسلامي حکومت ړنګ شو، او سلګونه زره مسلمانان شهیدان شول.

له شپږسوو څخه زیات عرب مجاهدین او مهاجرین یې د څو ډالرو په بدل کې امریکایانو ته وسپارل، د خپل ملت عزتمنده لور، ډاکټر عافیه صدیقي یې په امریکا باندې وپلورله. د امریکا په امر یې خپل ختیځ سرحد پرېښود او ۱۵۰ زره پوځیان یې د لوېدیځ سرحد ته انتقال کړل څو له دواړو خواوو مجاهدینو ته خنډونه جوړ کړي.

د امریکا په حکم یې له «المیزان آپریشن» نه تر «عزم استحکام» پورې په خپل ولس کې کڼ شمېر ظالمانه او وحشي عملیات وکړل. د پاکستان د ظالمانه او غیر شرعي پالیسیو پر ضد د حق غږ پورته کوونکي علماء لکه: د جامعې فریدیې مهتمم او د لال مسجد خطیب شهید مولانا عبد الله صاحب، شهید مفتي نظام الدین شامزی صاحب، شهیدِ اسلام مولانا یوسف لدهیانوي صاحب، شهید شیخ ولي الله کابلګرامي صاحب، شهید شیخ سلطان

غني عارف صاحب، شهيد مولانا مصباح الدين ملکپوري صاحب، شهيد غازي عبد الرشيد صاحب، شهيد شيخ نصيب خان صاحب، شهيد مولانا سميع الحق صاحب، شهيد ډاکټر عادل خان صاحب او تازه د جامعه حقانيې مرستيال مهتمم، مولانا حامد الحق حقاني صاحب رحمهم اللّٰه په شمېر په لسګونو علماء کرام يې شهيدان کړل.

د خپل ملت باحياء طالبات، د جامعه حفصې پاکلمنې حافظانې انجونې يې په فاسفورس بمونو وسوځولې. په قبايلي سيمو کې يې سلګونه مدرسې او جوماتونه ونړول، په لکونو قبايلي مسلمانان يې له خپلو کورونو وشړل او د IDPs په نوم يې کډوال کړل.

د حدود آرډيننس په څېر اسلامي قوانين يې لغوه کړل، او پر ځای يې داسې قوانين رامنځته کړل چې د کران هېواد دننه يې فحاشي او عرياني ته وده ورکړه، لکه د ټرانس جينډر بل، ميراتن ريس، او د زنا بالرضا قانوني کول، چې دا ټول د هغوی د فاسدې لارې روښانه او څرګند مثالونه دي.

مونږ څنګه او ولې د پاکستان پر حکمرانانو باندې د «امامِ عادل» اطلاق درست وګڼو؟! په دوی خو د مفتي اعظم هند، مفتي کفايت اللّٰه دهلوي رحمه اللّٰه هغه فتوا په مکمل ډول سره صدق کوي، کومه چې په کفايت المفتي، جلد: ۱، صفحه: ۱۳۹ کې د لاندې الفاظو سره درج ده: «وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ» نه مطلب يا خو علماء دي يا د مسلمانانو واکمنان، يعنې هغه واکمنان چې مسلمانان وي او د اللّٰه او د هغه د رسول صلی اللّٰه عليه وسلم د احکامو مطابق حکم جاري کوي.

هغه مسلمان واکمنان چې د اللّٰه او د رسول صلی اللّٰه عليه وسلم د احکامو خلاف فيصلې کوي، نو هغوی د دې قرآني آيت لاندې راځي: «وَمَنْ لَمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ». او هغه کسان چې د اللّٰه او د رسول خلاف حکمونه جاري کوي، قرآن مجيد هغوی ته «طاغوت» ويلي دي، او د طاغوت اطاعت کول حرام دي.

نو که يو څوک داسې واکمنان، چې د الهي شريعت او آسماني قانون خلاف حکم کوي، د «اولی الامر منکم» له ډلې څخه وبولي، نو هغه د قرآن د ښکاره نصوصو خلاف ورزي کوي. هغه کسان چې د انګريزي قانون لاندې خلافِ شريعت حکم کوي، که غيرمسلمان وي که يوازې تش په نوم مسلمانان، هغوی طاغوت دي، او په هيڅ صورت «اولی الامر» نه ګڼل کېږي. او که څوک دا ډول طاغوت واکمنان د اولی الامر په درجه کې راولي، نو هغه يا ليونی دی، يا جاهل دی، يا فاسق.

او په داسې حالت کې دغه ډول کس خپل مقتدا جوړول يا امام ټاکل ناجائز دي.

(کفايت المفتي، جلد: ۱، صفحه: ۱۳۹)

او د دې خبرې په اړه چې ګواکي د پاکستان رياست يو اسلامي رياست دی، نو په دې کې بايد تفصيل وکړو:

که چېرې له «رياست» نه مراد وطن يا ملک وي، نو بېشکه پاکستان د مسلمانانو ملک او وطن دی، په دې کې هيڅ شک نشته. خو که له رياست نه مراد حکومت وي، نو نه دا حکومت اسلامي دی او نه هم خپلواکه؛ بلکې د پاکستان دا موجوده اداره غير شرعي، ظالمه، او د امريکا او لويديځو قوتونو يوه غلامه، اجيره او لاسپوڅې اداره ده.

د پاکستان پوځ د انګريزانو له لوري د جوړ شوي «رائل انډين آرمي» پوځ تسلسل دی، چې د

تاریخ له پیل نه تر نن ورځې پورې دا پوځ تل د اسلام او مسلمانانو پر ضد د یوه کرایه شوي قاتل ځواک په څېر استعمال شوی دی.
د پاکستان پوځ یوه اوږده، توره او شرموونکې تاریخچه لري، چې اوس یې د تفصیل ځای نه دی.د یو حکومت د «اسلامي» کېدو لپاره مفتي اعظم مفتي رشید احمد لدهیانوي رحمه الله په احسن الفتاوی، جلد: ۶، صفحه: ۲۱ کې لیکلي دي: «تر هغه وخته چې کوم حکومت د اسلامي احکامو نفاذ ونه کړي، تر هغه وخته اسلامي حکومت نشي بلل کېدلی.»
او په فتاوی بینات، جلد: ۲، صفحه: ۲۹۱ کې محدث العصر، استاذ الاساتذه مولانا محمد یوسف بنوري رحمه الله لیکي: «حقیقت دا دی چې قرآن کریم او رسول الله صلی الله علیه وسلم د کومو اولی الامر اطاعت، عزت او درناوی واجب ګرځولی، هغه هماغه واکمنان دي چې د الله حدود قائموي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي، یا خو پخپله علماء وي، او که نه، نو لږترلږه د دین تعلیم او د شرعي احکامو د پلي کولو کار ته یې ځان وقف کړی وي. د داسې واکمن اطاعت د دین او شریعت برخه ده. خو که کوم امیر یا واکمن د شریعت خلاف حکم وکړي، نو خپله یې شرعي حیثیت له منځه ځي، نه یوازې دا چې اطاعت یې نشي کېدلای، بلکې مخالفت یې فرض ګرځي.»
هیدِ اسلام مفتي نظام الدین شامزي رحمه الله په خپله فتوا کې لیکي: «د اسلامي هېوادونو ټول هغه حکمرانان چې د صلیبي جګړې په دې بهیر کې د امریکا ملاتړي دي، او خپلې خاورې، وسایل او استخباراتي مالومات ورته ورکوي، دوی پر مسلمانانو د حکمرانۍ له حق څخه محروم شوي دي». ریاست یوه عصري اصطلاح ده، خو دا خبره بدیهي او واضحه ده چې که په کوم هېواد کې نافذ قانون او حکومتي نظام اسلامي وي، نو هغه ټولې اداري لکه پوځ، استخبارات او نور چې د دې اسلامي قانون او نظام دفاع کوي، هغوی هم اسلامي اداري ګڼل کېږي.
خو که په هېواد کې نافذ قانون او حکومتي نظام غیر اسلامي وي، نو هغه اداري چې د دغه غیر اسلامي نظام دفاع کوي، که څه هم افراد یې مسلمانان وي، اسلامي نه ګڼل کېږي.
له همدې امله زموږ اکابرو او معززو علماوو هیڅکله هم د پاکستان حکومت اسلامي حکومت نه دی ګڼلی، بلکې دا یې همېشه یو مسلط او غیر اسلامي حکومت بللی دی. هغوی د هېواد په کچه د اسلامي نظام او حکومت د جوړولو لپاره په بېلابېلو لارو چارو هڅې کړې دي. نو که چېرې د پاکستان حکومت اسلامي نه وي، نو د دې حکومت مشران او دولتي اداري هم شرعي «اولو الامر» نه ګڼل کېږي.
له همدې کبله د داسې غیر اسلامي حکومت او مشرانو خلاف د خپل دین، مال، عزت او ناموس د دفاع لپاره جګړه کول، نه خارجیت ده او نه هم بغاوت.
خارجیت د عقیدې مسئله ده، او خوارج هغه کسان دي چې هغوی په هغو غیر مکفِّره اعمالو (چې په اجماعي توګه د اهل السنت والجماعت د سلفو لخوا پرې تکفیر نه وي شوی) اعمالو باندې د مسلمانانو تکفیر کوي.
خو الحمدلله تحریک طالبان پاکستان د اهل السنت والجماعت د عقیدې او منهج څښتن یو سني او مجاهد تحریک دی، او هغه اعمال او چارو ته د مکفِّره اعمالو په نظر ګوري چې د اهل السنت والجماعت سلفو په مکفِّره اعمالو کې شامل کړي وي، او موږ هم هماغه مکفّره ګڼو او بس.
او د بغاوت په اړه مو وضاحت وکړ چې بغاوت هغه وخت کېږي کله چې څوک بې ځایه د حق امام یا امام عادل پر خلاف راپورته شي. او اوسني حکمرانان، لکه څنګه چې د مفتی اعظم هند مفتي کفایت الله رحمه الله ویلي، طواغیت دي. او همدارنګه، دا هم چې د جګړې ابتدا هم موږ نه ده کړې.
نو د ریاست په دې عصري اصطلاح باندې د هغه احادیثو او شرعي نصوصو تطبیق چې د اسلامي حکومت او شرعي اولو الأمر په اړه دي، د نصوصو ښکاره تحریف او بدلون دی. دوام لري، ان شاء الله





ليکنه: فواز مبسم

هغوی چې د درستې نړۍ سادات پاتې وو!

چـا بـه چـې د عـرب کلمـه اورېـده، زړه تـه بـه يـې مېړانـه، بهـادري، حيـاء او خپلواکـي درېـده. د جاهليـت لـه تـوري دورې يـې هـم پـه نامـوس د غيـرت مثالونـه تاريـخ پـه خپلـه بـې پـرې سـينه کـې سـاتلي.

دلته به يوه لنډ واقعه د عنترة راواخلو:

د جاهليـت د دورې تـور پوسـتی د وينځـې زوی خـو پـه حيـا، غيـرت او مېړانـه کـې مشـهور «عنتـرة بـن شـداد»

يو بيت ويلی:

وأغـضّ طرفـي مـا بـدت لـي جارتـي حتـى يـواري جارتـي مأواهـا.

ژبـاړه: زه مـې خپلـې سـترګې کښـته اچـووم تـر هغــو چــې راښــکاره شــوې ګاونــډۍ مــې لېــرې او خپـل ځـای تـه پنـا يوسـي.

ډېـرو يـې لونـې لـه دې وجـې ژونـدی پـه ځمکـه کـې ښـخولې چـې سـبايې د بـې ناموسـي پـه بـاب ځـوک پيغـور ورنکـړي.

اسلام راغی!

اسـلام نـو د هغـه ذات لـه لـوري رالېـږل شـوی هـر اړخيـز مبـارک ديـن دی چـې د هغـه غيرتـی ذات ثنا د هغـه رسـول (صلـی اللّه عليه وسـلم) هغـه وخت چـې د سـعد د غيـرت يادونـه ورتـه وشـوه، داسـې وکـړه: «أتعجبـون مـن غيـرة سـعد؟ واللّه أنـا أغيـر منـه واللّه أغيـر منـه».

يانـې؛ تاسـې تـه د سـعد پـه غيـرت تعجـب درېـږي زه لـه هغـه نـه ډېـر غيرتـي يـم او اللّه تعالـی لـه هغـه ډېـر.

سـعد بـن عبـادة بـه ويـل: «لـو رأيـت رجـلا مـع امرأتـي لضربتـه بالسـيف غيـر مصفـح».

کـه چېرتـه يـو ځـوک لـه خپلـې ښـځې سـره وويـنـم، خامخـا بـه يـې د تېـرې تـورې لـه تېـغ څخـه تېـر کـړم.

د علـي ابـن ابـي طالـب قـول هـم بايـد هېـر نـه شـي: «أطفئـوا السـراج لکـي لايـرى أحـد ظـل زينـب».

دا ډېـوه مـړه کـړئ، هسـې نـه د زينـب سـېوری ځـوک وويـنـي.

دا وو د عربـو د غيـرت ځـو مثالونـه. خـو ډېـر د تأسـف ځـای دی چـې نـن د سـعودي عـرب حاکـم (بـن سـلمان) د دجـال رهبـري شـوی عسـکر، د نـړۍ دعوېـدار او د ميليونونـو انسـانانو قاتـل ټرمـپ تـه خپلـې لونـې سترېمشـي تـه مختـه کـوي.

دا کـوم سياسـي او ډيپلوماتيـک پرمختـګ نـه، بلکـې فکـري شکسـت دی؛ داسـې شکسـت چـې تاريـخ يـې د تکـرار هڅـه نـه ده کـړې.

بـې حياءتـوب او بزدلـي يـې د معرفـت نښـه ګرځېدلـې؛ لـه حـرم شـريف څخـه تقريبـاً پـه ۸۷۰ کېلومتـرۍ (موسـم الريـاض) کـې يـې هغـه نانـدرۍ او نخـرې وکـړې چـې د سـليم فطـرت خاونـدان يـې تصـور هـم نـه شـي کـولای.

د دجالـي لښـکر سـرلاري تـه يـې د رخصـت بدرګـه پـه ۵ جنګـي الوتکـو کولـه، هسـې نـه چـې د حوثـي ياغيانـو د اور خـوراک شـي.

لـږ ور اخـوا د فلسـطين پـه يـوه ټوټـه (غـزه) کـې د انسـانانو مسـلخ)قصـاب خانـه(فعـال دی؛ چـې ماشـومان، زاړه او مېرمنـې پکـې قربانـي کېـږي.

دومـره يـې ونـه شـول کـړای چـې د اوبـو يـو نـل يـا د وچـې ډوډۍ ځـو ټوټـې د شـعب أبـي طالـب درې (د پيغمبـر صلـی اللّه عليـه وسـلم معنـوي بچيانـو) تـه ورسـوي.

فإلى المشتکی و عليه التکلان!

د شهادت او جهاد جذبه مو باید مړاوې نه شي

جهاد د اسلام له باغه د تاو شوي دېوال حیثیت لري.

که چېرته جهاد نه وي د اسلام بڼ زیانمن او له خطر سره مخ کېږي. د اسلام د بڼ لويې ونې عبارت دي له: کلمې، لمونځ، روژې، حج او زکات څخه، ثمرات او مېوې يې خورا زياتې دي...

د دې ټولو د حفاظت تضمين د جهاد په غاړه دی، جهاد بیا نو داسې سر سپارلیو زلمیو ته ضرورت لري چې له سینو څخه یې قهرجن تاوونه طاغوتي نړۍ سوځوي او په لړزه یې راولي، داسې زلمکي چې د محاربې او جنګ میدان ته سرونه په لاس د شهادت په خوږه تلوسه ور دانګي. جهاد تر کوم وخت او ځای پورې محدود عبادت نه دی، دا یو داسې مستقل او دوامدار عبادت دی چې تر قیامته به جاري وي، نه یې د کوم جابر جبر او نه یې د کوم عادل عدل ساقطوی شي.

تر څو چې د امت د ځوانانو په سینو کې د جهاد او شهادت جذبه تانده او هڅانده وي د اسلام او انسانیت دښمنان د مبین دین د لارویانو پلَو ته کاږه هم نه شي کتلای، لرې خو دا چې د امت په ځوانانو دې خپل شوم او نجس اهداف تطبیق کړي.

زموږ د پیغمبر له توري او جهاد سره دومره مینه وه چې د خپلې تورې په دسته یې سپین زر وهلي ؤ.

پیغمبر مو نبي الملاحم (دجنګونو رسول) و.

د پیغمبر یاران بیا نو هغه تاریخ ساز رجال و؛ چې د فارس او روم د غرور ماڼۍ یې وپرځولې، داسې تورزن چې په څټونو یې توري پڅولې، داسې باتور چې په توره پورته کولو به یې له کذار پرته دښمن مرادار او نجس روح به يې سجين ته حواله کاوه د دې رجالو په شاهکار او پرتمین دور کې یهودو کله د ژوند حق درلود تر دې چې په خپل لاس به یې له خورا ذلت سره مسلمان دولت ته جزیه نه وه حواله کړې (حتى يعطوا الجزية عن يد وهم صغرون) امت تر هغه خپل پخوانی برم او عظمت نه شي تر لاسه کولای تر څو یې چې د خپلو بچو په زړونو کې د جهاد او شهادت د خوږې مینې زړي نه وي کرلي.



نسل‌وژنه؛ د ناپاک پوځ له خوا پر ولسي وګړو د وحشت بربنډ داستان

عبدالله انصاری

د ظالمانه جګړې د داستانونو په اوږدو کې، داسې خونړۍ او له عبرت نه ډکې کیسې شته چې نه یوازې وجدانونه لړزوي، بلکې دا هم ښيي چې د دنیا تش په نامه انسانیت، عدالت، او د ولسي ژوند حرمت څومره ناولی او سپک شوی دی. په دې اوږده لیست کې یو بل تور باب اضافه شو، چې د شمالي وزیرستان په میرعلي کې، چېرته چې د ناپاک پوځ کواډ کاپټر ډرون د یوې بېګناه کورنۍ پر سر د بارودو باران وکړ.

د میرعلي خونړۍ شپه؛ د معصومیت وژنه:

څو شپې وړاندې، د شمالي وزیرستان ولایت د میرعلي ولسوالۍ د هرمز سیمې یوه خاموشه شپه، د ناپاک پوځ له خوا د ډرون له بمبارۍ سره بدرنګه شوه. یو کور چې پکې ماشومان، ښځې او یوې مؤمنې مور پرته له هر ډول جرم ژوند کاوه، د وحشت ښکار شول.

درې کوچنې ماشومان او یوه مؤمنه مور شهیدان شول، او څو نور ماشومان او ښځې ټپیان شول. دا فقط یوه پېښه نه ده، دا د هغو تسلسلي جنایتونو دوام دی، چې ناپاک پوځ یې د قبایلي ولس او نورو مظلومو پاکستاني مسلمانانو او مؤمنو پرګنو پر ضد ترسره کوي.

بمبارۍ، وژنې، ظلمونه؛ د طاغوت روان جنایت:

په همدغه میاشت کې درې ځله د خیبر ولایت په باړې ولسوالۍ پر عامو خلکو بمبار، هوان مرمۍ او ډرون برېدونه وشول.

د باجوړ ولایت په لوی ماموند ولسوالۍ کې، د جګړې پر مهال پوځ پر بې ګناه ولس بمبار او د هوان مرمۍ وتوغولې، چې په پایله کې یې یو کوچنی ماشوم شهید او څلور نور ټپیان شول.

دوه ځله د بنو ولایت د جاني خېلو ولسوالۍ پر خلکو ړندې بمبارۍ او ډرون حملې وشوې، چې پکې یوځل پلار او زوی شهید، نور څو ټپیان.

او دویم ځل پکې د یو کور پنځلس تنه بې ګناه ښځې او کوچنې ماشومان ټپیان شول.

په ټانک ولایت کې هم په یو مسجد باندې ډرون برید وشو، چې په کې د تبلیغي جماعت دوه مسافر ملګري شهیدان او دوه ټپیان شول.

آیا دا جګړه ده؟ که د یو ملت سیستماتیک نسل کشي ؟

کله چې ډول دا بریدونه، وحشت او پېښې په افغانستان، فلسطین یا کشمیر کې وشي، نو دلته د ریاستي علماوو، سیاستوالو او مفکرینو سترګې نمجنې شي، خو چې ناپاک پوځ دا ظلمونه د خپلو کورونو، خپلو جوماتونو، او خپلو ښځو او ماشومانو پر سر وکړي، هغوی



نسل‌وژنه؛ د ناپاک پوځ له خوا پر ولسي وګړو د وحشت بربنډ داستان

عبدالله انصاری

چوپ وي، نه څه ویني، نه څه اوري او نه یې ضمیرونه راویښېږي.

اې د پاکستان علماوو، سیاستوالو، لیکوالانو، ادیبانو او مقررینو ولې د حق غږ نه پورته کوئ؟
ولې د دې جمهوري او کفري نظام د مدافعینو او طاغوتي پوځ د روان وحشت او ظلم پر وړاندې چوپ یاست؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «افضل الجهاد کلمة حق عند سلطان جائر»، نو ولې دا خلک د دې فرعون پر وړاندې چوپ دي؟

ولس ته داسې ځوانان پکار دي، لکه د تحریک طالبان پاکستان مجاهدین، چې د همدې ولس ریښتیني بچي دي او د ایمان، عزت او شریعت د دفاع لپاره یې د ټوپک او قربانۍ لار غوره کړې.

اې وطنوالو! که نن چوپ یو، سبا به وار زموږ وي.
نن چې کوم ماشوم شهید شو، سبا به زموږ ماشوم وي.
نن چې کومه مور ژاړي، سبا به زموږ مور ژاړي.
نن چې کوم کور وران شو، سبا به زموږ کور ورانیږي..

که نن چوپ پاتې شو، سبا به تاریخ زموږ د غدارۍ او بېغرضۍ ګواهي ورکړي



د قربانۍ تعریف:

د لوی اختر په ورځو کې د اللّٰه جل جلاله د تقرب (نږدېوالي) د حاصلولو په موخه د کوم ځانګړي څاروي حلالولو ته قرباني (اضحیه) ویل کېږي.

د قربانۍ مشروعیت:

قرباني یو داسې مشروع عمل دی چې په قرآن، حدیث او اجماع سره ثابت دی، او پر دې باندې د ټولو علماوو اتفاق دی.

د قربانۍ حکم:

قرباني یو مالي عبادت دی او حکم یې واجب دی. اللّٰه جل جلاله فرمایي: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ.
ژباړه: خپل رب ته لمونځ وکړه او قرباني وکړه.

علامه ابن کثیر رحمه اللّٰه له مفسرینو، صحابه کرامو، تابعینو لکه حضرت عبداللّٰه بن عباس، عطاء، مجاهد، عکرمه او حسن بصري رحمه اللّٰه څخه روایت نقل کړی دی چې د «وَانْحَرْ» (کلیمې معنا قرباني ده.

رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم فرمایي، څوک چې وس ولري او قرباني نه کوي، زموږ عیدګاه ته دې نه راځي.

د قربانۍ حکمت او فلسفه:

سربېره پر دې چې قرباني یو ابراهیمي یاد او سنت دی، دا د اللّٰه جل جلاله په لارکې یو ډول سرښندنه او د اللّٰه جل جلاله د منني اداء کول هم دي. کله چې بډایان د قربانۍ غوښه د بېوزلو په منځ کې وېشي، نو په مسلمانانو کې د دوستۍ او ورورولۍ احساس او روحیه ژوندۍ کوي.

بډایه او فقیر یو د بل تر څنګ خوښي کوي؛ چې دا خوښي په یوه ټولنه کې د سوکالۍ او نېکمرغۍ لامل ګرځي.

د قربانۍ حقیقت او ارزښت:

حدیث: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قُلْتُ أَوْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا هَذِهِ الْأَضَاحِيُّ قَالَ سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ قَالُوا مَا لَنَا مِنْهَا قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَالصُّوفُ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِنْ الصُّوفِ حَسَنَةٌ.

ژباړه: حضرت زید بن ارقم وایي چې صحابه وو له پېغمبرصلی اللّٰه علیه وسلم څخه د قربانۍ د حقیقت په اړه پوښتنه وکړه، پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم په ځواب کې ورته وفرمایل: دا ستاسو د پلار حضرت ابراهیم علیه السلام سنت دی. صحابه وو وپوښتل: آیا نو په دغه قربانۍ کې موږ ته هم ثواب رارسیږي؟ پغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم په ځواب کې ورته وفرمایل:

هو، د قربانۍ د حیوان د هر وېښته په بدل کې تاسو ته یوه نېکي لیکل کیږي. صحابه وو بیا وپوښتل: د وړیو هم دومره اجر دی؟ پیغمبرصلی اللّٰه علیه وسلم په ځواب کې ورته وفرمایل: هو، د وړیو هم دغه حساب دی، د هر وېښته په بدل کې یوه نېکي ورکول کېږي.

د قربانۍ فضیلت:

حدیث: عَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلی اللّٰه علیه وسلم– قَالَ :« مَا عَمِلَ آدَمِىٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ دَمٍ وَإِنَّهُ لَيَأْتِى يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِى قَرْنِهِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِى الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا.

ژباړه: حضرت عایشه رضي اللّٰه عنها فرمایي، چې پیغمبرصلی اللّٰه علیه وسلم وفرمایل: د قربانۍ په ورځ کې اللّٰه جل جلاله ته تر قربانۍ زیات بل کار خوښ نه وي، په دې ورځو کې دغه نېک کار تر هر بل نېک کار غوره وي، د قربانۍ څاروی به دقیامت په ورځ د ښکرو، وېښتانو او ښنګرو سره یو ځای ژوندی راشي، او د قربانۍ په ورځ به د حلالولو په وخت چې د وینې یو څاڅکی پر ځمکه لوېږي، نو ځمکې ته تر رسېدو مخکې د اللّٰه جل جلاله د خوښۍ سبب ګرځي، او هغه یې قبلوي، نو ای د اللّٰه جل جلاله بندګانو! په خوښۍ او د زړه په مینه قرباني وکړئ.

د قربانۍ پر پرېښولو وعید:

حدیث: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ وَلَمْ يُضَحِّ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مُصَلاَّنَا.

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضي اللّٰه عنه څخه روایت دی، چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم وفرمایل: څوک چې وس ولري او د نصاب څښتن وي، خو قرباني نه کوي، هغه دې زموږ عیدګاه ته نه راځي.

د قربانۍ نصاب:

د قربانۍ او صدقة الفطر (سرسایې) نصاب یوه ډول دی، او هغه (۴۷۹۸۷) ګرامه سره زر او یا (۶۱۲،۳۵) ګرامه سپین زر دي.

د نصاب تعریف:

نصاب د مال هغې خاصې اندازې ته ویل کېږي، چې پر هغې باندې شریعت زکات فرض کړی وي، لکه د پسونو لپاره څلوېښت (۴۰) پسونه، د سپینو زرو لپاره دوه سوه (۲۰۰) درهمه او د سرو زرو لپاره شل (۲۰) مثقاله سره زر.

قرباني پر چا واجبیږي؟

قرباني پر هر هغه چا واجبیږي چې مسلمان، عاقل، بالغ، مقیم او د (۶۱۲،۳۵) ګرامه سپینو زرو، او یا د (۸۷،۴۷۹) ګرامه سرو زرو څښتن وي.

یا په واک کې داسې څه ولري چې له اړتیا یې زیات وي، او ارزښت یې د سپینو یا سرو زرو د نصاب قیمت ته ورسیږي.

د اړتیا شیان هغه دي چې د سړي ژوند او عزت پسې تړلی وي، لکه خوراک، څښاک، کالي، د اوسېدو ځای او داسې نور چې په اصلي اړتیاوو کې شمېرل کېږي، نو له دې امله ستر ستر دېګونه، لوی فرشونه، قالینې، راډیو او تلوېزیون، له اړتیا زیاتې جامې او داسې نور شیان چې د انسان د اساسي اړتیاوو په جمله کې نه راځي، نو که د دغو شیانو ارزښت د

نصاب قیمت پوره کولای شو، نو قرباني پرې واجب ده.

که څوک د نصاب څښتن وي، د قربانۍ لپاره د کال تېرېدل شرط نه دي، ځکه څو که څوک د اختر په دویمه ورځ هم د لمر له لوېدو څخه وړاندې دومره شتمني پیدا کړي چې ارزښت یې د قربانۍ نصاب ته رسېده، نو قرباني پرې واجب ده.

یاده دې وي چې د نارینه وو په څېر په ښځو هم قرباني واجبه ده، چې کله د قربانۍ د نصاب په کچه سره یا سپین زر او یا هم د هغه په اندازه شتمني ولري.

که کوم لېونی او ماشوم د نصاب څښتن وي قرباني پرې نه کیږي، او د هغوی سرپرست هم نه شي کولای چې دهغوی پر ځای د هغه له مال څخه قرباني وکړي.

کوم کس چې مسافر وي، پر هغه هم قرباني واجب نه ده. که مسافر مقیم شو، یا مقیم مسافر شو، د قربانۍ د وجوب لپاره اخر وخت معتبر دی، که مسافر د اختر په درېیمه ورځ تر لمر لوېدو مخکې مقیم شو، نو قرباني پرې واجب ده. او که مقیم په اخر وخت کې مسافر شي، نو بیا قرباني پر واجب نه ده.

که څوک پر ځان نذر ومني او یا د قربانۍ په نیت څاروی واخلي نو قرباني پرې واجب ده، که څه هم فقیر وي.

که چا دقربانۍ وصیت وکړ او مال یې هم پرېښود، نو پر وصي یا ولي یې قرباني کول واجب او ضروري ده.

که د یو چا مال حرام وي، لکه د رشوت یا سود او یا داسې نور، نو پر هغه باندې قرباني واجب نه ده؛ که قرباني وکړي، نو قرباني یې نه صحیح کیږي، ځکه چې پر هغه باندې د ټول مال صدقه کول واجب دي.

که دوه یا درې ورونه ګډ ژوند کوي، نو شتمنی ته یې کتل کیږي، که یې شتمني دومره وه چې د هر یوه برخه نصاب ته رسېده، نو پر هر ورور جلا جلا قرباني واجب ده، او د ټولو له لورې یوه قرباني بسنه نه کوي.

که پلار او بالغ زامن ګډ ژوند کوي، خوراک او څښاک یې یوځای وي، نو که زوی د پلار په شتمنۍ او کاروبار کې مستقله برخه او اختیارات ولري، نو پر زوی جلا قرباني واجبه ده او پر پلار جلا، او که مستقله برخه ونه لري او نه هم خپله د نصاب په اندازه مال ولري، نو پر زوی قرباني واجبه نه ده، یوازې د پلار قرباني بسنه کوي.

د قربانۍ ورځې:

د ذوالحجې لسمه، یوولسمه او دولسمه د قربانۍ د حلالولو ورځې دي، د ذوالحجې د دولسمې ورځې تر لمر لوېدلو وروسته بیا قرباني نه کیږي. خو په دې درې وو ورځو کې لومړی ورځ یعنې د ذوالحجې په لسمه قرباني کول ډېره غوره او ثواب لري. او د دې درې ورځو څخه پرته په بله ورځ قرباني نه کیږي.

د قربانۍ پر ځای صدقه او خیرات کول:

که د چا څخه قرباني د عذر له کبله پاتې شي

او يا د قرباني په ورځو کې ورځخه بې پروايي وشي، پر دغه کس واجب ده چې د قرباني بيه په غريبانو وويشي که څوک د قرباني په ورځو کې د قرباني پيسې صدقه کړي، قرباني يې نه کيږي ځکه چې صدقه يو ډول عبادت ده او قرباني بل ډول عبادت دی. د روژې پر ځای لمونځ او د لمونځ پر ځای زکات او حج نه کيږي، نو له دې کبله د قرباني پر ځای صدقه نه صحيح کيږي.

د قرباني د حلالولو وخت:

په کومو ښارونو کې چې د جمعې او اختر لمونځ کيږي، په هماغه سيمو کې د اختر د لمانځه څخه وړاندې د قرباني حلالول جايز نه دي، خو په کومو سيمو کې چې د جمعې او اختر لمونځ نه کيږي، د هغه سيمو اوسېدونکي کولای شي چې د سهار د لمانځه وروسته د قرباني څاروی حلال کړي.

که د اختر په لومړۍ ورځ لمونځ د کومې ستونزې له کبله وځنډېږي، د اختر د لمانځه د وخت د تېرېدو وروسته خلک کولای شي چې خپلې قرباني حلالې کړي.

د شپې له خوا د قرباني حلالول روا ده، خو مکروه ده.

د قرباني د حلالولو مستحب وخت:

د کليوالو لپاره تر لمر راختو، او د ښاريانو لپاره د اختر تر خطبې وروسته قرباني کول مستحب دي، که چا مخکې تر دې چې امام سلام وګرځوي، قرباني وکړه، نو قرباني يې صحت نه لري.

د حلالولو سنت طريقه:

حديث: عَنْ أَنَس قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ –صلى اللَّه عليه وسلم– بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا. ژباړه: له حضرت انس رضي اللَّه عنه څخه روايت دی چې، رسول اللَّه صلی اللَّه عليه وسلم دوه ښکرونه لرونکي، سپينوالي او توروالي ته مايل پسونه په خپل لاسونو قرباني کړل، د حلالولو پر مهال يې (بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّه اَکْبَرْ) وويل او خپله پښه يې د هغه پر غاړه ايښې وه.

حضرت ابو سعيد خدري رضي اللَّه عنه څخه روايت دی، وايي چې: رسول اللَّه صلی اللَّه عليه وسلم حضرت فاطمې رضي اللَّه عنها ته وفرمايل: ولاړه شه له خپلې قرباني سره ودرېږه او ذبح کول يې وګوره، ځکه د هغې د لومړي څاڅکي سره چې ځمکې ته رسيږي، ستا ټول تېر ګناهونه بخښل کيږي، فاطمې رضي اللَّه عنها پوښتنه وکړه ای داللَّه جل جلاله رسوله! دا فضيلت يوازې زموږ اهل بيت لپاره ځانګړی دی او که ټول مسلمانان يې مستحق دي؟ رسول اللَّه صلی اللَّه عليه وسلم وفرمايل: دا فضيلت موږ لره هم او نورو مسلمانانو لره هم شته.

د قرباني د حلالولو سنت طريقه دا ده چې قرباني کوونکی دې قرباني په خپله حلاله کړي او که قرباني کوونکی د حلالولو په طريقه نه پوهېده، نو بل چا ته دې د قرباني د حلالولو اجازه ورکړي، خو پخپله بايد د قرباني د حلالولو پر مهال حاضر او ولاړ وي. که يوه مېرمنه په کور کې وي او قرباني يې د باندې حلاله شي، پروا نه لري.

تر حلالولو مخکې اداب:

۱ـ تر حلالولو مخکې به څاروي ته اوبه او خواړه ورکول کېږي، او وږی یا تږی یې ساتل مکروه دي.

۲ـ د حلالولو ځای ته یې په ډېرې سختۍ سره یې کشول مکروه دي، باید په ښه نرمۍ سره د حلالې ځای ته ورسول شي.

۳ـ چاړه به ښه تېره کوې، په پڅه چاړه یې حلالول مکروه دي.

۴ـ که چاړه تېره کوې، نو له څاروي څخه دې پټه تېره شي.

۵ـ په حدیث شریف کې راځي: یو شخص څاروی چپه کړی و بیا یې چاړه تېره کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې ولید، ویې ویل: تاسو څاروی څو ځله وژنئ؟

۶ـ د یوه څاروي حلالول د بل څاروي په وړاندې مکروه دي.

۷ـ تر حلالو وروسته دې یو څه وخت ورته منتظر شي، چې بدن یې سوړ او آرام شي.

د قربانۍ نیت:

د قربانۍ لپاره په ژبه د نیت ویل ضروري نه دي، خو په زړه کې به یې دا وي چې قرباني کوم نو قرباني یې صحیح ده، او د قربانۍ د حلالولو پر مهال (بِسْمِ اللّٰهِ اللّٰه اَکبر) ویل ضروري او سنت دي.

تر حلالولو مخکې دعا:

د قربانۍ حیوان باید مخ په قبله واچول شي، او بیا دغه دعا وویل شي: (إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَالسَّمٰوَاتِ وَالاَرْض وَ مَا انَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

ژباړه: بېشکه مخ مې کړی دی د هغه چا په لوري چې ځمکې او آسمانونه یې پیدا کړي دي او زه له مشرکینو څخه نه یم، بېشکه لمونځ، ټول عملونه، ژوند او مرګ مې د الله جل جلاله لپاره دي.

تر حلالولو وروسته دعا:

د قربانۍ د حلالولو څخه وروسته دې دغه دعا ولوستل شي:
اللّٰهُمَّ تَقَبَّلْهُ مِنِّيْ كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِيْبِكَ مُحَمَّدٍ وَ خَلِيْلِكَ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِمَا السَّلاَمَ

ژباړه: ای ربه! دغه قرباني زماڅخه قبوله کړه لکه څنګه چې دې د خپل نازولي پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت ابراهیم علیه السلام قرباني قبول کړې وه.

د قربانۍ څاروی:

په شریعت کې د قربانۍ څاروي دوه ډوله دي:

۱- کوچني څاروي لکه څېرلۍ یا چېلۍ (بزه) او پسه چې د یوه کس له لوري قرباني کېدای شي.

۲ـ غوا، غوایی، کامېښه، اوښه او اوښ چې د اوو کسانو له لوري قرباني کېدای شي.

اولــه دې پرتــه پــه نــورو حیواناتــو لکــه وحشــي ځــاروي، چــرګ یــا چرګــه قربانــي نــه کیــږي.

د قربانۍ د ځاروي عمر:

غوا او ګامېښه باید دوه کلنه وي.

اوښه او اوښ باید پنځه کلن وي.

وزه (چېلۍ) او پسه باید یوکلن وي.

کــه د پورتنیــو حیواناتــو عمــر لــه خپلــې انــدازې کــم وي، قربانــي کــول یــې روا نــه دي.

کــه مرغومــی (د چېلــۍ بچــی) لــه یــو کال څخــه کــم وي، نــه قربانــي کیــږي. خــو کــه وری یــا وری(د ګــډ یا پســه بچــی) دومــره تیــاره شــوی وي چــې په ونــه او وزن کــې لــه یــو کلــن ســره برابــر وي، بیــا قربانــي کېــدای شــي.

کــه څــوک د قربانــۍ لپــاره څــاروی اخلــي، دقربانــۍ پلورنکــی ووایــي چــې د دغــه څــاروي عمــر پــوره دی، او څــاروی هــم د ځېــرې څخــه پــه عمــر پــوره ښــکارېده، د پلورونکــي پــه خولــه یقیــن کــول روا دي.

د جهادي مبارزې او فکري سمون په برخه کې د ټولنیزو رسنیو، ټرېنډ او هېشټاګ اهمیت او ضرورت

په معاصره نړۍ کې جګړه یوازې په میدان نه بلکې په فکر، ذهني تسلط، رسنیو او مجازي فضا کې هم ترسره کېږي. د یوې نظریې د خپرولو، د یو تحریک د دفاع، او د یو مقصد د بیان لپاره که څه هم قلم، منبر او مطبوعاتو پخوا خپل ځای درلود، خو اوس د ټولنیزو رسنیو (Social Media) اغېز تر هر بل وخت زیات شوی. دا یو داسې ډګر دی چې د حق او باطل ترمنځ فکري مقابله، ارزښتونو ته وده ورکول، او ذهني او تبادلې فتوحات پکې ترسره کېږي.

د ټولنیزو رسنیو بنسټیز رول:

ټولنیزې رسنۍ یا سوشل میډیا د یو ملت د فکري بیدارۍ، د یو تحریک د پیغام رسولو، او د یو موقف د وضاحت لپاره ستر ځواک او وړتیا لري. یو جهادي تحریک، که وغواړي د خپل پیغام دفاع وکړي، دښمن ته ځواب ورکړي، یا هم خپل فکر او موقف ته عامه ذهنونه راجلب کړي، نو دا وسایل تر ټولو اغېزناک میدان او چاپېریال جوړوي.

فیسبوک، ایکس (ټویټر)، ټیلیګرام، انسټاګرام، یوټیوب، او واټس اپ ځیني هغه وسایل دي چې له لارې یې مورتر ډېرو لېرې ذهنونو رسېدای شو.

دا رسنۍ او وسایل د خلکو د افکارو د تغیر، نظریو جوړونې، فکري لاروښوونو او د تاریخي بیانیې د بیان لپاره خورا مهم دي.

د ټرېنډ (Trend) او هېشټاګ (Hashtag) تفاوت:

هېشټاګ د یوې موضوع، پیغام یا اصطلاح لپاره کارول کېږي، تر څو هغه موضوع یو ځانګړی شناخت پیدا کړي، لکه:

#پوځي_بربریت

یا

#شهیدانو_دین_ساتلی

ټرېنډ بیا هغه موضوع ته ویل کېږي چې په یوه ټاکلي وخت کې زیات خلک پرې خبرې کوي. هېشټاګونه چې ډېر خلک یې یوځای استعمال کړي، نو یوه موضوع د ټرېنډ بڼه خپله کوي.

یعنې هېشټاګ د یوې موضوع د راټولولو وسیله ده، او ټرېنډ د هغې موضوع شهرت، نفوذ او نتیجې ته ویل کېږي.

ولې جهادي تحریکونه باید سوشل میډیا ته ډېر پام وکړي؟

ځکه چې:

۱ــ د تبلیغ او دعوت آسانه وسیله ده؛ جهادي مفکوره، خوځښت، مبارزه، تحریک، اهداف او بېلګې له درواغو ډکو راپورونو، غلطو تبلیغاتو او پروپاګندونو څخه دفاع غواړي. چې دا دفاع د سوشل میډیا له لارې، نسبت نورو لارو ته اسانه ده.

۲ــ د امت او ځوانانو ذهن او افکار جوړوي؛ ځوان نسل د فکر په میدان کې دښمن ته ورکړل

